## د ټاکنو د خپلواک کمیسیون پریکړه

| | |
|---|---|
| د پریکړې شمیره: | ۱۵- ۱۳۸۹ |
| موضوع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون ترمنځ د مفاهمې د مسودې، د هغو ګوندي کاندیدانو په اړه چي ګوندونه یې راجستر شوي نه وي او په لومړني لست کې د شاملو نیوکه کونکو کاندیدانو اړوند د معلوماتو د تصحیح په اړه بحث. |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د دارالانشاء ریاست |
| وخت، نیټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غبرګولي ۳، چې د ۲۰۱۰ زیږدیز کال د می له ۲۴ نېټې سره سمون لري. د |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ایوب اصیل ، آغلې مومنه یاري ، آغلې مستوره ستانیکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی قاضي سلیمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسیني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون د یادو شوو موضوعاتو په اړه لاندې پریکړې وکړې:**

1. د تفاهم لیک مادې باید ولیکل شي او د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون په ګډه غونډه کې ترڅېرنې لاندې ونیول شي او د دواړو خواو د منلو څخه وروسته باید لاسلیک کړل شي.
2. د سیاسي ګوندونو د بیا ثبتوني د بهیر او نیټې په اړه باید د یو مکتوب په ترڅ کې د عدلیې وزارت څخه معلومات ترلاسه شي.
3. د نیوکه کونکو کاندیدانو د نومونو، تخلص، عکسونو، سمبولونو او د رأی ورکوني د کارت د شمیرې د تصحیح اسانتیاوې دې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون په مرکزي دفتر کې رامنځته کړل شي.